مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ژباړه: سمسور ودان ۲۰۲۳/۰۱/۱۲

# مرګ او ژوند

## د پابلو نرودا په اند

مړه کېدل يو عمل دی!

پيل يې هغه وخت کيږي کله چې تاسي سفر نه کوئ، کتابونه لوستل پرېږدئ، کله چې له ژونده ډک غږونه نه اورئ او خپل ځان ته شاباسئ نه ورکوئ!

تاسي مرئ!

کله چې خپل عزت نفس وژنئ. کله چې له نورو مرسته غوښتل د خپلي انا توهين ګڼئ. کله چې د خپل عادت غلام شئ، هره ورځ په يوه تقسيم اوقات ګرځئ او خپل معمول نه بدلوئ. کله چې د مختلفو رنګونو جامې نه اغوندئ او له اجنبي خلکو/ پرديو سره خبرې نه کوئ.

تاسي مرئ!

کله چې د خپلو جذباتو ګرمايش نه محسوسوئ، په زړونو کې مو توپان نه راځي او ان په هغو احساساتو مو هم سترګي نم نشي په کومو چې د زړه ذربان تيز او سترګي نم شي .

تاسي مرئ!

کله چې له نامعلومو خطرونو د ځان ژغورني هڅي پيل کړئ. د خوبونو تعبيرونو ته شا کړئ. کله چې ميني او د ميني له شورماشوره ځان خلاصوئ او هغو خلکو نه ځان پټوئ، چې په ليدلو يې ستاسي سترګي رڼېدلی او د زړه حرکات بې ترتيبه کېدلی شي.

خطر ومنئ!

له منطقه وتښتئ، د خوبونو په لټون پسي ووځئ، خوشحاله واوسئ او کله هم اجازه مه ورکوئ، چې لمحه په لمحه مړه شئ. په ياد ولرئ! ژوند ډير ځانګړی او قيمتي شی دی!

پابلو نرودا

ژباړه: سمسور ودان



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ